دافغانستان اسلامي امارت

لـــــــــــوړو زده کړو وزارت

شیخ زاید پوهنتون ریاست

علمي چـــارو معاونیت

د کیفیت لوړونې آمریت

# د علمي ازادیو تګلاره

ترتیب: د علمي چارو معاونیت

کال: ۱۴۰۴ل.ل

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله وأصحابه أجمعين!**

لهٔ شــک پرته پوهنتونونه د متخصـصــو کادرونو د روزنې چاپېريال دی او پهٔ بېلابېلو برخو کې د زده‌کړې زمينه برابروي، د ټولنې اړتياوو ته د ځواب ويلو لپاره اړينه ده چې پهٔ علمي چاپېريال کې علمي او اداري ازادي موجودې وي.

علمي ازادي هغه صلاحيتونه دي چې د لوړو زده‌کړو د اصولو لهٔ مخې د علمي کادر غړو او محصلينو ته ورکړل شـوي دي. دا ازادي د تحصيلي نظام نورمال او اغېزمن فعاليت تضمينوي، د استادانو او محصلينو روحيه او انګيزه لوړوي او د تحصيلي نظام کيفيت او اعتبار ته وده ورکوي.

د دې ازاديو مراعت کول د تدريس او زده‌کړې ښېر پياوړی کوي، د درسي پلانونو پهٔ تطبيق کې مرسته کوي، د محصلانو فکري وده، عدالت او انصاف، د محصل‌محوری اصل، نوښت، څېړنې او د اعتماد او احترام فضا رامنځته کوي.

تجربه ښـيي چې د دې ازاديو حدود بايد د ټولنې د عيني شـرايطو، د محصـلينو د فکري ودې کچې او د اسـتاد او محصـل تر منځ د متقابل درناوي پر بنسټ مشخص شي؛ ترڅو دواړه خواوې پرې سم پوه شي.

پوهنتونونه مکلف دي چې دا ازادي د ملي او نړيوالو معيارونو او د نظام د تګلارو، فرامينو او احکامو پهٔ رڼا کې تنظيم کړي.

پهٔ دې پاليسـی کې هڅهٔ شــوې چې د اســتادانو او محصــلانو د علمي فعاليتونو لپاره يو منظم چوکاټ رامنځته شـي؛ څو هغوی وکولای شي د علمي اصولو پهٔ رڼا کې خپل نظرونه څرګند، تدريس او تحقيق ترسره کړي.

خو دا ازادي مطلقه نهٔ ده، بلکې د اسلامي شريعت، ملي ارزښتونو او د نظام د تګلارو پهٔ چوکاټ کې تنظيم شـوې ده؛ تر څو علمي فعاليتونه د ټولنې د ديني، اخلاقي او ملي کټو سره سمون ولري او د اسلامي نظام له بنسټيزو اصولو سره پهٔ ټکر کې واقع نهٔ شي.

### د علمي  آزادۍ مفهوم

پهٔ پوهنتونونو کې علمي ازادي لهٔ هغه حق څخه عبارت دی، چې لهٔ مخې يې اسـتادان، محصـلان او څېړونکي کولای شي د تدريس، زده‌کړې، څېړنې او علمي نظر څرګندولو او فعاليتونه پهٔ ازاد ډول ترسره کړي، پهٔ داسې حال کې چې دا ازادي د اسلامي شريعت، علمي معيارونو، اخلاقي اصولو او د نظام د تګلارو پهٔ چوکاټ کې تنظيم شـوې وي او د ټولنې د ديني، فکري او ملي کټو د خوندي کولو ترڅنګ د علمي پرمختګ، حقيقت موندنې او فکري ودې سبب وګرځي.

دا چې پهٔ اسلام کې ازادي مطلقه نهٔ ده، انسان بايد د شريعت پهٔ حدودو کې ژوند وکړي؛ نو پهٔ پوهنتونونو کې علمي ازادي هم بايد:

- د اسلامي شريعت تابع وي
- د اسلامي ارزښتونو خلاف نهٔ وي
- د ټولنې او د نظام د تګلارو خلاف نهٔ وي، د استادانو او محصلينو پهٔ ګټه وي.

## د علمي آزادۍ اهميت

علمي ازادي د علمي بنسټونو د پرمختګ، فکري ودې او د باکيفيته تحصيل لپاره يو اساسي اصل بلل کېږي. د دې لارې استادان، محصلان او څېړونکي کولای شي خپل علمي فعاليتونه په ډاډمن او منظم چاپېريال کې پرمخ يوسي.

**له مهمو اړخونو يې:**

- علمي ازادي د علم د توليد او پراختيا زمينه برابروي او د تحقيق روحيه پياوړې کوي.
- د استاد او محصل تر منځ سالم علمي بحث، نقد او تبادله ممکنوي.
- د نوښت، ابتکار او فکري ودې سبب ګرځي.
- د علمي کيفيت د لوړوالي او معياري تحصيلاتو تضمين کوي.

له بلې خوا دا ازادي د اسلامي شريعت په چوکاټ کې د دې لپاره مهمه ده چې:

- علمي فعاليتونه د ديني ارزښتونو سره همغږي پاتې شي.
- د ټولنې اخلاقي او اعتقادي بنسټونه خوندي وساتل شي.
- علمي څېړنې د ټولنې د اصلاح، پرمختګ او خير سبب وګرځي.

په ټوله کې ازادي هغه وخت اغېزمنه وي چې د علم، اخلاقو او دين تر منځ توازن پکې وساتل شي.

## د علمي آزادۍ موخې

د علمي آزادۍ اساسي موخه دا ده چې په علمي بنسټونو کې داسې چاپېريال رامنځته شي چې استادان، محصلان او څېړونکي وکولای شي خپل علمي فعاليتونه په مؤثر، منظم او مسؤولانه ډول ترسره کړي.

**مهمې موخې يې دا دي:**

- د علمي تحقيق، تدريس او زده‌کړې لپاره مناسب او ازاد چاپېريال برابرول.
- د فکري ودې، نوښت او ابتکار پياوړتيا.
- د علمي بحث، نقد او سالمو نظرياتو د تبادلې ترويج.
- د تحصيلي کيفيت لوړول او معياري زده‌کړې تضمينول.
- د استاد او محصل تر منځ د علمي تعامل او متقابل احترام پياوړتيا.
- د علمي فعاليتونو وده چې د اسلامي ارزښتونو سره همغږې وي.
- د داسې نسل روزنه چې علمي وړتيا او ديني التزام دواړه ولري.
- د تحقيق جهت د ټولنې د اصلاح، خدمت او پرمختګ پر لور سوق کول.
- د افراط، تفريط او غير اسلامي افکارو مخنيوی.

SHAIKH ZAYED UNIVERSITY ١٣٨١

## د اکاډمیکي آزادۍ اصول

### ۱- د نظر اظهار

استاد، محصل او کارمند کولای شي د قانون او دیني ارزښتونو په چوکاټ کې خپل نظر څرګند کړي؛ ځکه چې په اسلامي شریعت کې د حق خبره ویل فضیلت دی او د باطل خپرول منع دي.

### ۲- د تدریس ازادي

استاد کولای شي د علمي اصولو په رڼا کې تدریس وکړي او خپل علمي نظریات وړاندې کړي، په دې شرط چې د اسلامي شریعت خلاف نظریات او فاسد فکرونه ترویج او نشر نه شي.

### ۳- د تحقیق ازادي

هر څوک کولای شي د علمي او څېړنیزو معیارونو، د نظام د تګلارو او د ټولنې د اړتیا مطابق تحقیق وکړي او پایلې یې ټولنې او ښکیلو اړخونو سره شریکې شي؛ په دې شرط چې د څېړنې اخلاقي اصول پکې رعایت شي.

### ۴- د علمي ترفیعاتو ازادي

د علمي ترفیعاتو ازادي هغه اصل ته ویل کېږي چې له مخې یې د پوهنتونونو علمي کادر غړي کولی شي د علمي ترفیع لپاره د نظام د تګلارو په نظر کې نېولو سره په ازاد، عادلانه او شفاف چاپېریال کې خپل علمي فعالیتونه ترسره او وړاندې کړي، پرته له دې چې له غیرعلمي فشارونو، شخصي مداخلو او یا اداري تعصباتو سره مخ شي. یعنې: هېڅ سیاسي، قومي، ژبني، سمتي یا اداري فشار باید د ترفیع په پروسه کې اغېز ونه لري.

### ۵- علمي غونډو کې ګډون

استادان، محصلان او کارمندان کولای شي په سیمینارونو، کنفرانسونو او مناظرو کې ګډون وکړي؛ خو په دې شرط چې غونډې او راټولېدنې به د شریعت او د نظام د تګلارو په چوکاټ کې وي او د نظام تګلارو سره به په ټکر کې نه وي.

### ۶-استادانو استخدام

استادان باید د نظام د تګلارو مطابق د علمي وړتیا، اسنادو او تجربې پر اساس وټاکل شي، نه د شخصي اړیکو له مخې.

### ۷- د محصل حق

محصل کولای شي په درس کې پوښتنې، د استاد پر درس نقد، سوال او اعتراض وکړي؛ خو په دې شرط چې:

- باید ادب مراعات شي
- د استاد سپکاوی ونه شي

### ۸- د مساوات حق

پوهنتون کې ټول استادان، محصلین او کارمندان د برابر چلند حق لري.

۸- د محصل تحقیق

محصل کولای شي د خپل تخصص او رشتې اړوند موضوع انتخاب کړي، مقاله او مونوګراف پرې ولیکي؛ خو په دې شرط چې موضوع باید د اسلامي شریعت، د نظام د تګلارو او د څېړنیز لارښود په خلاف نه وي.

## د آزادۍ حدود

ازادي مطلقه نه ده، ځکه انسان ټولنیز موجود دی او بې‌حده ازادي د نورو د حقونو د ضایع کېدو سبب ګرځي.

د ازادۍ پورتنې حدودو د اسلامي فقهې آرونو سره سمون لري؛ ځکه چې:

- علمي ازادي باید د فتنې سبب نه شي
- د دیني اصولو پر ضد استعمال نه شي.
- د نظام او د لوړو زده کړو تګلارو پرضد ونه کارول شي.

## د علمي آزادۍ څخه د تخلفاتو په اړه پالیسي

د علمي آزادۍ پالیسي په دې ټینګار کوي چې علمي ازادي یو مسوولانه حق دی، نه مطلقه ازادي. له همدې امله، هر هغه عمل چې د دې اصل له ټاکل شوو حدودو څخه تجاوز وکړي، د پالیسۍ له مخې تخلف ګڼل کېږي او د مخنیوي او اصلاح لپاره ځانګړي تدابیر ورته نیول کېږي.

## د علمي ازادۍ بنسټیز اصل

علمي ازادي باید د اسلامي شریعت، نافذه قوانینو، علمي معیارونو او اخلاقي اصولو په چوکاټ کې عملي شي او له دې چوکاټه وتل تخلف بلل کېږي.

## د تخلفاتو ډولونه (د پالیسۍ له مخې)

### ۱ .د دیني او ملي ارزښتونو خلاف کړنې

- اسلامي مقدسات تر پوښتنې لاندې راوستل
- د غیر اسلامي افکارو ترویج
- د ملي ګټو پر ضد فعالیت

### ۲. د علمي اصولو نقض

- علمي سرغړونې، لکه جعل، دروغ او تحریف
- د څېړنو په برخه کې ادبي غلا (Plagiarism) او (Copyright) حقوق نقض کول.

### ۳ . له علمي آزادۍ ناوړه ګټه اخیستنه

- د شخصي، سیاسي یا تعصبي اهدافو لپاره د ازادۍ کارول
- د فتنې، تفرقې او بې‌نظمۍ رامنځته کول

### ۴ .د نورو د حقونو محدودول

- د محصل د علمي پوښتنې يا نقد مخنيوی
- د استاد د علمي حيثيت سپکاوی
- غير عادلانه چلند

### ۵ .اخلاقي سرغړونې

- بې‌ادبي، توهين او سپکاوی
- د اسلامي اخلاقو خلاف چلند او نور...

## د علمي ازادۍ په اړه پوهاوی

- د پوهنځيو رييس صاحبان، د ديپارتمنتونو آمرين او استادان مکلف دي چې د علمي ازادۍ پاليسي علمي کادر او محصلينو ته ورسوي.
- د دې پاليسۍ د عملي تطبيق څارنه وکړي.
- پاليسي د پوهنتون ويب‌سايټ، ټولنيزو رسنيو او درسي صنفونو له لارې خپره شي.

## نظارت او کنټرول

- د هر سمستر په جريان کې د محصل‌محور تدريس څارنه وشي.
- د ديپارتمنت آمرين د درسي بهير تنظيم وکړي.
- له استادانو او محصلينو سره توضيحي غونډې ترسره شي که اړتيا وي.
- د ازموينو سيستم (منځنۍ، وروستۍ، نمرې ورکول، تجديد نظر) تر جدي څار لاندې ونيول شي.
- د مکافاتو او مجازاتو اصل د ازاديو د رعايت يا سرغړونې پر بنسټ عملي شي.

## د اکاډميک ازادۍ ارزونه

١. هر کال يو ځل د نظرپوښتنې له لارې د علمي ازادۍ د تطبيق کچه وڅېړل شي.

٢. د پاليسۍ د ښه والي لپاره د نظرپوښتنو پايلې په پام کې ونيول شي.

٣. د استادانو او محصلينو نظرونه (فيدبک) راټول شي ترڅو د رضايت کچه معلومه شي.

٤. د تحصيلي کال په پای کې عمومي ارزونه ترسره شي.

٥. پايلې په شوراګانو کې شريکې شي او د قوت او ضعف پر بنسټ لازم اقدامات وشي.

## نتیجه‌ګیري (Conclusion)

په ټوله کې، علمي ازادي د لوړو زده‌کړو د نظام یو بنسټیز اصل دی چې د کیفیت لوړولو، نوښت او فکري ودې لپاره حیاتي ارزښت لري. دا ازادي د استادانو او محصلینو لپاره داسې چاپېریال برابروي چې هغوی وکولای شي په ازاد فکر، مسوولانه چلند او علمي معیارونو ولاړ فعالیتونه ترسره کړي.

د علمي ازادۍ مؤثر تطبیق نه یوازې د تدریس او زده‌کړې بهیر پیاوړی کوي؛ بلکې د څېړنې، عدالت، محصل‌محورۍ او علمي اعتبار د لوړولو سبب هم ګرځي. په همدې حال کې، د دې ازادۍ حدود باید د نافذه فرامینو، احکامو، اسلامي ارزښتونو، او ټولنیزو شرایطو په رڼا کې تنظیم شي؛ ترڅو د نظم او مسوولیت اصل خوندي پاتې شي.

همدا ډول د منظم نظارت، دوامدارې ارزونې او اغېزمنو میکانیزمونو شتون د دې ضمانت کوي چې علمي ازادي په سمه توګه پلي شي او له هر ډول ناوړه استفادې څخه مخنیوی وشي.

همدا ډول د علمي آزادۍ څخه هر ډول ناوړه استفاده، لکه د دیني ارزښتونو نقض، د علمي اصولو سرغړونه او اخلاقي بې‌نظمي، نه یوازې تخلف ګڼل کېږي؛ بلکې د علمي نظام اعتبار هم زیانمنوي، له همدې امله د دې پالیسۍ موخه دا ده چې د ازادۍ او مسوولیت تر منځ توازن رامنځته کړي.

په ټوله کې ویلای شو چې علمي **ازادي باید د** علم، دین او اخلاقو تر منځ د همغږۍ **په** چوکاټ کې وکارول شي؛ څو د ټولنې د اصلاح، پرمختګ او علمي پیاوړتیا سبب وګرځي.

**پورتنی تګلاره د پوهنتون د علمي شورا په (۱۲) ۱۰ / ۱ / ۱۴۰۵ ګڼه پروتوکول غونډه کې ولوستل شوه او تایید شوه.**

**ترتیب او راټولونه : پوهنوال حسام الدین رحیم زی**
**د شیخ زاید پوهنتون کیفیت لوړونې آمر**

**تاییدوونکی: پوهنمل نور الله حسین خېل**
**د شیخ زاید پوهنتون د علمي چارو مرستیال**